مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال
۲۰۲۳/۱۱/۱۹

# زموږ يوه ټولنيزه - تاريخي نيمګړتيا

د ټولنيزو پوړونو (Castes) شتون و پالل د بشريت يو تاريخي - ټولنيز آفت دی. ټولنيز پوړونه د مرييتوب د دورې ميراث دی. لرغونيو مصريانو د سوداګرو، کسبګرو، جنګياليو، بزګرو، هنرمندانو او مريیانو پوړونه لرل، تر ټولو لوړ پوړ د فرعنانو و، چې هم يې سياسي ځواک درلود هم ديني. فرعونان يا خدايان ګڼل کېدل يا د خدايانو استازي. يو مهال به هر پوړ له ځانګړيو نښو پېژندل کېده، د ويښتانو جوړېدل يا د بدن د ځينو برخو لغړوالی. د ځينو کاستونو مصری ښځې به لوڅ تېر ګرځېدې. په لرغوني يونان کې هم دې ته ورته کيسه وه، ان چې په لرغوني ولسواکۍ کې ښځو او ځينو ټولنيزو پوړونو د ټاکلو او ټاکل کېدو حق نه درلود.

خو دا کيسه په ختيز کې ژوره پاتې شوه، نښې يې تر نن هم ټولنيز ژوند ته زيان اړوي. په لوی هيندوستان کې د ملي اصلاحاتو په سر کې دا راځي، چې ټولنه له کاستونو خلاصه کړي، هلته په ځينو سيمو کې لا هم د برهمنانو (دين‌واکو)، کشاتريانو (شاهزادګانو)، ويشايانو (سوداګر، کسبګر او بزګر) او شودراګانو/ سودرا/ سوډراګانو يا کارګرانو او په پای کې د داليت‌انو يا نجسانو پوړوال ويش شته او نجسان (داليت) بايد خپل مخ اصيلو(!) انسانانو ته ونه ښيي، ځکه پر هغوی غسل واجبيږي.

د داسي ويشونو او باورونو يو زوړ خو خورا زورور روايت زموږ افغانانو په ټوليز - تاريخي لاشعور کې هم ژوندی دی او بيخي ژورې ريښې لري. د (اصيل) او (کم اصل) ستانومونه يې څرګندې نښې دي. اصيلتوب د کورنۍ په څرنګوالي پورې تړلی بللی شي. موږ د بيولوژۍ له ټولو علمي پرنسيپونو سرغړوونه کوو او فکر کوو، چې د انسان ماهيت د هغه په وينه کې دی او ده ته په ميراث پاتېږي.

بيولوژي وايي: وراثت، وينه، نوږ (جنس) او جينيټيکس د انسان پر فردي ظرفيت او ټولنيز ماهيت هېڅ اغېز نه لري.

حضوري - وجودي فيلوسوفيExistentialism ، چې د انسان د ازادۍ فيلوسوفي هم ګڼل کيږي، يو بنسټي استدلال يې همدا دی، چې «انسان په دې محکوم دی، چې خپل ماهيت په خپله وټاکي» دا پخپله وګړی دی، چې ځان جوړوي، انسان هغسې دی، چې دی يې غواړي.

د دې فيلوسوفي مخکښ فيلوسوف او ليکوال ژان پُل سارتر ويل: «که له موره زېږېدلی ګوزڼ‌وهلی [فلج] د فوټبال اتل نه شي، ملامت پخپله دی!»

تر څولسيزو مخکي زموږ پوخ باور دا و، چې واکمني يوازې د شاهي کورنۍ غړي کولای شي. د افغانستان د تاريخ لويې تېروتنې د شاهي کورنيو غړيو وکړې. د اسلام له روح او د ټولنپوهنې له علمي پرنسيپونو سره په مخامختيا کې موږ اوس هم په ناسمه توګه باور لرو، چې روحانيون ګواکې سپېڅلي انسانان دي، کټمټ د مصر فرعوني يا د هيندوستان د برهمني پوړونو په شان باور شته، چې دوی د خدای استازي دي.
د تمدن او موډېرن انسان يوه نښنه دا ده، چې د دې ټولو ناسمو باورونو په وړاندې پاڅون کوي. ټول پوړونه ړنګوي او انسان له دې اړخه بشپړې خپلواکۍ ته رسوي.
هغو ټولنو، چې د انسان وجودي ماهيت يې منلی او پوه شوي، چې ښځه کمزورې موجود او يوازې د زېږون ماشين نه دی، په همدې يوه باور يې د ټولنې بشري ظرفيت غبرګ (دوه‌چنده) کړی دی.
د ولسواکي يو ارزښت همدا دی، چې د موسی شفيق غونډې لومړی وزير او د ډاکټر عبدالوکيل غونډې وزير يې هم راپورته کولای شو، پرته له دې چې وګوري وينه يې څه ده او کورنۍ يې کومه؟

**ويښتيا، روښانتيا اوبدلون**



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ